په حقيقت کې، هغه څه چې تاسو يې وايئ او بلنه ورته کوئ ډېر ښه به وي که تاسو مور ته ووایاست چې آیا د هغه څه لپاره کفاره شته چې مونږ کړي دي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی: دا چې ځینو مشرکانو زیات وژل کړي وو، زناګانې یې زیاتې کړې وې، نو دوی محمد صلی الله علیه وسلم ته راغلل، او ویې ویل: : په حقیقت کې، هغه څه چې تاسو یې وایئ او بلنه ورته کوئ ډېر ښه به وي که تاسو مور ته ووایاست چې آیا د هغه څه لپاره کفاره شته چې مونږ کړي دي نو دا آیت نازل شو {وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلا بِالْحَقِّ وَلا يَزْنُونَ} [الفرقان: 68] - (يعني او د رحمن ذات بنده ګان هغه دي) چې له الله سره بل معبود نه بلي او هغه نفس چې الله حرام کړی وي؛ ناحقه نه قتلوي او زنا نه کوي) (نو دوی ته به د لوړو مانيو بدله ورکړلی شي) او دا آیت نازل شو: {قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ} [الزمر: 53]. ته (دوی) ته ووایه: اې زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو یې زیاتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نا امېده [کبرئ، [الزمر: ۵۳

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له مشرکانو څخه ځینې خلک راغلل، پداسې حال کې چې زیات قتلونه او زناګانې یې کړې وې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل: هغه څه چې ته ورته له اسلامي لارښوونو څخه بلنه ورکوې ښه کار دی، خو د هغه شرک او لویو ګناهونو له امله به زمونږ برخلیک څنګه شي چې مونږ پکې لوبدلي یو، نو آیا (زمونږ لپاره) کومه بخښنه شته؟ نو دا دوه آیتونه نازل شول: چې الله تعالی یې په ترڅ کې د هغو خلکو توبه قبوله کړه، سره لدې چې زیات او لوی ګناهونه یې کړې وو، او که داسې نه وای شوي نو په خپل کفر او سرکش کې به وړاندې تللي وو او هېڅکله به پدې دین کې نه وو داخل شوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65071